## د کوویډ-۱۹ هغه واکسین افغانستان ته راورسېد چې د کوواکس له خوا را لېږل شوی و

**کابل، افغانستان، د ۲۰۲۱ د مارچ ۸ مه:** افغانستان نن د کوویډ-۱۹ هغه واکسین ترلاسه کړ چې د کوواکس (COVAX) له خوا را لېږل شوی و. کوواکس د ساری ویروس په وړاندی د سی پی (CEPI) د واکسین د نړیوالی ټولنی (Gavi )، یونیسف او د روغتیا نړیوال سازمان د واکسین د چمتو کولو یو مشارکت دی. کوواکس د نړۍ په کچه د کوویډ-۱۹ واکسینونو د عادلانه وېش په لاره کې یو تاریخي گام گڼل کېږي. دا د نړۍ په تاریخ کی د واکسین چمتو کولو او وړاندې کولو تر ټولو سترعملیات او انتقالات دی. دا د کوواکس له لوری د کویډ ۱۹ د واکسین د راتللو لومړنۍ جوپه ده چې د راتلونکو اونیو او میاشتو په اوږدو کې به ادامه ولري.

د ۲۰۲۱ کال د مارچ په اتمه، کوواکس د هندوستان په ممبۍ ښار کې له اسټرا زېنکا سیروم(Astra Zeneca Serum) انستیتیوت څخه ۴۶۸۰۰۰ دوزه واکسین را استولی. دغه واکسین د مارچ د اتمې په ماسپښین د امارات الوتنې له لارې د حامد کرزي نړیوال هوایي ډگر ته را ورسېد. کابل ته د دغه واکسین په رسېدو سره، د کوواکس په بې ساری هڅو کې د عطف ټکی څرگندېږي چې د ۲۰۲۱ کال تر پایه د کوویډ-۱۹ لږترلږه ۲ میلیارده دوزه واکسین چمتو کولو څخه عبارت دی. افغانستان د جنوب اسیا د هیوادونو د جملی نه لومړنۍ هیواد دی چی د ا واکسین تر لاسه کوی.

له ۴۶۸۰۰۰ دوز واکسین سره یوځای، ۴۷۰۰۰۰ پیچکارۍ او ۴۷۰۰ خوندي بکسونه هم را لېږل شوي دي.

د افغانستان او جي بوټي هېوادونو لپاره د گاوي ټولنې عمومي مدير ريکارډ لاکورټ وايي:«د کوواکس د لومړني واکسین را رسېدل د اتصال ټکی څرگندوي. گاوي ټولنه غواړي د افغانستان له خلکو او همکارو موسسو سره خپلې همکارۍ ته ادامه ورکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې واکسین اړمنو کسانو ته په عادلانه او قناعت بښوونکي توگه و رسېږي. دغه کار به سخت او ستونزمن وي خو که ټینگ هوډ ولرو او یو له بل سره گډ کار وکړو، دغه ساری ویروس ته ماتې ورکولای شو.

په افغانستان کې د یونیسف استازې، شیما سین گوپتا وایي: «دا د افغانستان لپاره یوه مهمه ورځ ده. د کوواکس له خوا د کوویډ-۱۹ چمتو شوی واکسین په وېشلو سره به د ښوونکو په گډون شاوخوا ۲۳۴۰۰۰ تنه واکسین او د کوویډ -۱۹ ویروس پر وړاندې به خوندي شي. یونیسف خوښ دی چې د عامې روغتیا او پوهنې وزارتونو د واکسین په دې پړاو کې ښوونکو ته لومړیتوب ورکړ. ښوونکي به د مارچ په ۲۱ مه د ښونځیو له پیل کېدو وړاندې واکسین شي. زموږ گډ لومړیتوب دا دی چې ټول ښوونځي پرانستل شي او ټول افغان ماشومان درسي ټولگیو ته ستانه او له خپلو ملگرو سره یوځای شي.»

د روغتیا نړیوال سازمان استازي ډاکټر ډېوېډ لای وویل: «د کوویډ-۱۹ واکسین د دی ساری ویروس پروړاندې مبارزه کې زموږ لوی گام دی. د واکسین د کیفیت، خوندیتوب او اغېزمنتوب تاییدول د روغتیا نړیوال سازمان له مهمو لومړیتوبونو څخه دي خو واکسینونه یوازې هغه مهال کار کوي چې د عامې روغتیا له ستراتیژیو سره یوځای شي. موږ دغه هدف ته په یوه ورځ کې نه یو رسېدلی او نه به هم په یوه ورځ ترې ووځو، خو نن ورځ زموږ هیله نوې شوې. د لوبې پای روښانه دی. په هر حال، افغانستان د نړیوالې ټولنې پرله پسې ملاتړ ته اړتیا لري ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د لسیزو جگړو، شخړو او نا امنیو څخه دغه اغېزمن شوی هېواد، کوویډ -۱۹ ته په ماتې ورکولو کې پاتې نه راځي.»

د عامې روغتیا سرپرست ډاکټر وحید مجروح وویل: «د افغانستان اسلامي جمهوریت د عامې روغتیا وزارت به د دې واکسین په تطبیقولو سره د کوویډ-۱۹ پر وړاندې مبارزه کې نوره وړتیا هم ترلاسه کړي. ډاکټر مجروح زیاته کړه، د عامې روغتیا وزارت د کوواکس او نورو نړیوالو مرسته کوونکو ادارو څخه د دوی د دایمي ملاتړ له امله مننه کوي. د ده په خبره، موږ باید خپلې هڅې لا پسې گړندۍ کړو ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ټول اړمن افغانان د کوویډ-۱۹ پر وړاندې واکسین شی؛ ځکه واکسین د دغې ناروغۍ له منځه وړلو لپاره تر ټولو مهم گام دی.»

د نن ورځې واکسین د کوواکس د همکارا نواو دولتونو د څو میاشتو پرله پسی هلو ځلو نتیجه ده. هغوی په ځانگړې توگه د نړۍ تر ټولو بېوزله هېوادونو سره همکاري کوي: هغه هېوادونه چې پر مختللی بازار ته د وړاندې کولو ژمنتوب له نوښت څخه به برخمن شي. دا د کوویډ-۱۹ واکسینونو ته له نړیوال او عادلانه لاسرسي سره د مرستې یو نوښتگر مالي مکانیزم دی. په دغه ملاتړ کې د واکسیناسیون د ملي پلانونو پراختیا، د ساړه ځنځیر زیربنا(Cold chain infrastructure) چمتو کولو لپاره ملاتړ، د نیم میلیارد پېچکاریو او کار سوو پیچکاریو د ویجاړولو لپاره خوندي بکسونو، ماسکونو، دستکښو او نورو اړینو وسایلو زېرمه کول شامل دي ترڅو روغتیایي کارکوونکي له کافي وسایلو او تجهیزاتو برخمن شي. په دې سره به دوی وکولای شي چې په چټکۍ سره د لومړیتوب لرونکو گروپونو واکسینول پیل کړي.

د کوواکس غړیو هېوادونو ته په لومړي پړاو کې د واکسین وېشلو لپاره، اړتیا ده چې څو مهمې اړتیاوې پوره شي. په دغو اړتیاوو کې لاندې ټکي شامل دي: د چمتو شویو واکسینونو په اړه د ملي معیارونو تاییدول، د تاوان ورکولو هوکړه لیکونه، د واکسیناسیون ملي پلانونه او همدارنگه د صادراتو او وارداتو د جواز لیکونو په څېر نور لوجستيکي عوامل.

COVAX

تر هغو چې غږي هېوادونه د چمتوالي په موخه پورته یاد شوي معیارونه عملي کوي، کواکس به تولیدوونکو ته د پېرلو یا خریداری فرمایش ورکړي او د ورته پروسې له لارې به واکسین چمتو کړي. دا د دې مانا لري چې په لومړي پړاو کې به واکسین تدریجاٍ په ځو برخو کې وړاندې شي.

ټولې نړۍ ته د واکسین له پراخېدو سره باید دې ټکي ته پام وشي چې واکسین په خپل وار د عامې روغتیا د تدابیرو لپاره یو بشپړوونکی توکی دی نه د هغه ځای ناستی. درملیزو امکاناتو ته د لاسرسي ډېربدل او د اکسیجن او دېگزامېتازون په څېر چټک تشخیص هم په خپل وار مهم دي. د کووېډ-۱۹ وسایلو ته د لاسرسي چټکولو(ACT Accelerator) نوښت هم د دې کار لپاره داد خواهی کړي. هېوادونه باید د ټسټ اخیستنې، څارنې، قرنتینولو او درملنې د پروګرامونو ترځنګ، د فزیکي واټن نیولو، ماسک اغوستلو، د ساه اخیستنې مصنوعي ماشینونو(وېنټیلاټور) کارولو او لاس وینځلو په څېر د سرایت د مخنیوي او کنټرول لپاره ازمویل شویو تدابیرو پلي کولو ته هم ادامه ورکړي.

کواکس د مختلفو جغرافیایي سیمو او ولسونو لپاره د مناسبو واکسینونو بېلابېل فهرستونه چمتو کړي. په ۲۰۲۱ کال د ټولې نړۍ په کچه د غړیو هېوادونو لپاره د شاوخوا ۲ میلیارد دوز واکسین وړاندې کولو پر بنسټ خپل هدف ته د رسېدو په درشل کې دی. په دې هدف کې د کواکس د هغو ۹۲ لږ عاید لرونکو هېوادونو لپاره لږ تر لږه ۱،۳ میلیارد تمویل شوي واکسینونه هم شامل دي چې د ګاوي کواکس مکانیزم(Gavi Covax AMC) ملاتړ ورسره دی.

کواکس چې د کووېډ-۱۹ وسایلو ته د لاسرسي چټکولو نوښت یو رکن دی، له CEPI اتحادیې، د واکسین نړیوالې ټولنې(ګاوي) او د روغتیا د نړیوال سازمان له خوا په ګډه رهبري کېږي. کواکس له یونیسف سره د یوه مهم اجرایي همکار او همدارنګه د مدني ټولنې بنسټونو، د واکسین تولیدوونکو، نړیوال بانک او نورو اړخونو سره همکاري او ګډې هڅې لري.

######

**د اډیټور انو لپاره نوټونه:**

د اډیټورانو لپاره د کواکس بشپړ خبري نوټ: https://www.who.int/initiatives/act-accelerator/covax/covax-news-note-to-editors

د ګاوي کواکس مکانیزم(Gavi COVAX AMC) لپاره د تمویلي ژمنو لیکلړ:

https://www.gavi.org/sites/default/files/covid/covax/COVAX-AMC-Donors-Table.pdf

پاڼه UNICEF COVAX: https://www.unicef.org/supply/covax-ensuring-global-equitable-access-covid-19-vaccines


**د رسنیو لپاره د اړیکو جزئیات:**

د CEPI مطبوعاتي دفتر

ټیلفون: +44 7387 055214

برېښنالیک: press@cepi.net

د واکسین نړیواله ټولنه (ګاوي):

میګانه شرف الدین: +41 79 711 55 54 msharafudeen@gavi.org

ایوان اوکونل +33 6 17 57 21 26 econnell@gavi.org

د روغتیا نړیوال سازمان نړیوال دفتر

+41 22 791 2222، mediainquiries@who.int

وزارت صحت عامه

ډاکټر غلام دستګیر نظری، مشاور ارشد، سخنګوی وزارت و رییس عمومی برنامه ملی واکسیناسیون،

+93(0)797223009dastagger_nazary@yahoo.com،

یونیسف په افغانستان کې

ډاکټر فضل احمد، یونیسف افغانستان | +93 (0) 799987605| fahmad@unicef.org

ډاکټر سنجي بهاردواج، یونیسف افغانستان، +93 (0) 799987607، sabhardwaj@unicef.org

د روغتیا نړیوال سازمان هېوادي/سیمه یز دفتر

احمدالله امرخیل د روغتیا نړیوال سازمان +93(0)700263232، amarkhila@who.int

بسما اکبر د روغتیا نړیوال سازمان+93(0)782200354، akbarb@who.int


CEPI Gavi The Vaccine Alliance unicef World Health Organization